سردار محمد همدرد ۲۰۱۵/۱۱/ ۱۱

# ننني لاریون که ملي حماسه؟

افغانستان یو داسي هېواد دی چې، تر شا یې تر درې لسیزو ډېره جګړه تېره کړه، دغه جنګ د بېلابېلو ډلو ټپلو، استخباراتو، ګاونډیو، نړیوالو او نورو لخوا په خپلو وختونو کې د بېلابېلو لاملونه له امله سوي دي او لا هم یوه نا اعلان سوي جګړه روانه ده.
په دغه تر درې لسیزه چې نږدې څلور لسیزې کېږي په دې جګړه کې میلیونه بې ګناه خلک ووژل سول، بې کوره سول او لا هم د وژني او ژوبلې دغه لړۍ روانه ده، د هر وخت چاروکي، له ولسمشره تر وزیره او نورو لوړ پوړو دولتي چاروکو پورې پرې خپل خپل امتیازات او کرېډټ اخلي او اخیستي یې دی.
زما په اند وروستۍ لسیزه تر ټولو ډېره وژونکې، او خطرناکه وه او دغه خطرونه تر اوسه زموږ ولس ته متوجه دی او د وژني لړۍ روانه ده.
په تېره بیا اوسنی حالت زموږ په هېواد کې تر ټولو بدترین حالت دی، که له یوې خوا زموږ حکومت کمزوری سوی دی، له بېلابېلو خواو له ګڼو ګواښونو سره مخ دی، ولس مو ټول له هېواده بهر ته په تېښته دی، نا امني ډېره سوه، اقتصادي ستونزې رامنځته سوې، بل پلو مو ولس په هیڅ ډول خوندي نه دی، خپل کور، کلي کې له بېلابېلو وسله والو ډلو لخوا وژل کېږي، په دار ځړول کېږي او ان سرونه یې پرې کېږي.
پخوا که په دې وطن کې جګړې هم سوي دي او یا به کېدلې، نو دښمن به مالوم و، د جګړې هدف به هر چا ته څرګند و، ولس ته به زیان نه اوښته، خو اوس زموږ هېواد او زموږ ولس په داسي حالت کې ژوند کوي، چې دوست او دښمن نه مالومېږي، دلته یوه ډله نه ده چې دا ولس یې له ګواښونو اندېښمن دی او قرباني کېږي یې، بلکې دلته بېلابېلي وحشتناکې ډلي رامنځته سوې، له طالبانو تر داعشه، له ګاونډیو تر نړیوالو او دې ته ورته نورې ډلې ټپلې، زور واکي، سیمه ییز قومانداناn، شخصي ناقانونه وسله وال او نورې ډېرې ډلې شتون لري چې ولس یې وواژه، ویې زوروه او لا هم ولس ورځ تر بلې د پورته ډلو ټپلو قرباني کېږي.
وروستیو کې د داعش او یا هم د اسلامي دولت ډلې چې پیل له هلمنده وسو، خو دلته چې فعالیت نتیجه ورنه کړه نو د افغانستان ختیځ ته ولاړل، ننګرهار کې یې مرکزونه جوړ کړل، جلب جذب یې پیل کړ، ګڼ خلک یې ووژل، شهیدان یې کړل، بې کوره او ژوبل یې کړل، پیغلې سرتورې کړې، نوی زېږېدلی ماشوم یې تر چړې تېر کړ او په سوځوني کې یې په شهادت ورساوه.
د دوی ظلمونه دومره اوج ته ورسېدل چې ځایي خلکو یې هم پر وړاندې پاڅونونه پیل کړل او په ختیځ کې تقریباً دغه وحشتناکه ډله په ورکېدو او د دوی تغر په ټولېدو دی.
کلونه کلونه زموږ ولس قرباني ورکړې، مشرانو مو په دې خاطر مرګ ته په خوشالۍ غېږې ورکړې چې راتلونکی نسل یې په ارامۍ او سوکالۍ کې ژوند وکړي خو پخواني مشران چې قرباني یې ورکړه لا یې هم ارمانونه نه دي پوره سوي او حالت تر هغې څو چنده داسي بدتر سوی دی چې هیڅوک د دې تضمین نه سي کولی چې ولس مو دې د یوې شپې لپاره هم خوندي وي.
په را وروستۍ لسیزه کې کلونه کلونه د بهرنیانو په هوایي بمباریو کې زموږ هېوادوال، په ودونو، جنازو، دخوښیو په محفلونو او نورو بېلابېلو ځایونو کې بمبار سول، چغې مو ووهلې خو هیچا هم ږغ وانه ورېد، اوس د وسله والو مخالفو ډلو لخوا ظلمونه رابادي کېږي، هغه وسله وال چې د اسلام جنډې یې په لاسونو کې نیولي دي او د دوی په خبره د دې لپاره جګړه کوي چې په دې هېواد کې اسلامي قانون راولي، خو په کوم دلیل عام ولسي وګړي د دوی لخوا وژل کېږي او سرونه یې پرې کېږي؟؟؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

د داعشیانو لخوا په زابل کې د اوه هزاره ورونو او خویندو سرونه پرې کول بل ستر جنایت و، چې په ټول هېواد کې یې د افغانانو غبرګونونه راوپارول، تر دې پورې چې د قرباني سویو جسدونه کابل ته انتقال سو او نن لسګونه زره افغانان کابل کې راټول سول لوی لاریون یې وکړ، د ارک تر خولې ورغلل، د ملي وحدت د حکومت دواړه مشران یې وغندل، د ارک تر دروازې ورغلل او د حکومت د مشرانو پر بې کفایتۍ یې شعارونه ورکړل.
داعشیانو دا داسې یوه بې رحمانه جنایت کړی چې په نړۍ کې یې ساری نه لیدل کیږي، هیڅ قانون یې نه مني، له عامو ولسي وګړیو د سرونو پرې کول هیڅ ډول قانون او اصولو کې نه سته.
نننی لاریون چې مرکز کابل کې ترسره سو یوه ملي حماسه ده، اوسنی وخت چې تر ټولو بد وضعیت دی، ښه لار یې همدغه لاریونونه دي، بله هیڅ لار نه لرو، زه د افغانستان په لر او بر کې له ټولو افغانانو غواړم چې جوپې جوپې دې په هر ولایت کې راووځي د حکومت له مشرانو، وسله والو مخالفو ډلو او نړیوالې ټولنې دې وغواړي چې نور بس کړئ، وژنې بس کړئ، معاملې بس کړئ، وینه تویینه بس کړئ، د استخباراتو روانې لوبې او جګړې ته د خاتمه ورکړئ.
ترڅو چې ټول افغانان یو نه سو، ترڅو چې پښتانه، هزاره، ازبک، تاجک او هېواد کې ټول شته قومونه پر یوه ټغر راټول نه سي او خپل اواز په یو ځای پورته نه کړي، نو نور به هم ووژل سول، نن که اوه هزاره ورونه وژل سوي دي، سبا لسګونه نور افغانان وژل کیږي، نن که ننګرهار لسګونه پښتانه له کورونو بې کوره سول، سبا سلګونه او زرګونه بې کوره کیږي او وژل کیږي.

نننی لاریون یوه ملي حماسه ده او دا یې ښه لار ده، نور اوسنی وضعیت د زغملو نه دی، ټول افغانان که هزاره دي، که پښتانه دي، که هر قوم دی، باید په یو غږ راووځي او حکومت سره حساب وکړي.
ټول افغانان باید په یوه اواز نړیوالې ټولنې، حکومت او هم افغانستان کې شته وسله والې ډلې چېلنج کړي ترڅو اوسنی وضعیت بدل کړي.
که دا کار هم نه وکړو، نو بې پوښتنې، بې رحمانه او بې حسابه به وژل کیږو.
په اوسني وخت کې له یووالي پرته بله هیڅ لار نسته چې روان وضعیت ته بدلون ورکړي، یووالی قووت جوړوي او قوت د روانو ګواښونو په وړاندې او هېواد کې د شته جنایتکارانو سره ښه حساب کولی سي.
جنګ کې پیدا جنګ کې را لوی سو خندا څه پېژنو
حالاتو ډېر یو زورولي ادا څه پېژنو؟؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ